آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۲/۰۶

پاسپورت

خپل دا توري او دا کرښې او دا شعر مې د ۲۰۱۱۴ ام کال د اگست پر ځوارلسمه نېټه خپور کړی و. دا دی اته کاله وروسته یو چا زنگ راته ووهٔ او وېویل چې داسې څه مې د چا له خولې واورېدل، د لوستلو لپاره مې اصلي متن پیدا نه کړ، ځنگه به شي؟

ما چې خپل ارشیف پرانست، سمدلاسه په مخه راغی، اوس یې د هغه دوست لپاره یو ځل بیا خپروم.

(آصف بهاند)

پاسپورت

لاندې شعر او ورسره لنډه مقدمه مې د خپل یو فرهنگي دوست (ف، ف تور شالی) د یو ښکلي شعر(سپوږمی، غر او ځنگل) تر لوستلو نه وروسته ولیکل:

تورشالی گله!

ځو شیبې مخکې له یوه اوږده سفر نه راستون شوم. کله مې چې د مخکتاب پاڼه پرانسته، د «سپوږمی، غر او ځنگل» شیرام راباندې ولگید او په مینه مې د خپلې ستړیا د ایستلو په نیت، ستا د شعر په بڼ کې د قدم وهلو نیت وکړ.

د فرهنگي ملگرتیا په سترگو نه، بلکې په رښتیا سره یې درته وایم:

ستا په شعر کې د توتکی انځور ډېر زړه راښکونکی راوړل کېږي. زما د ذهن په دوړو کې ستا د شعر یو بل تت شانتې انځور هم شته دی چې اختر ته دې لیکلی و او زما «د سولې ـ غمې» په کلیزه کې دې زما گنو رابلل شوو ملیمنو ته اورولی و. هلته هم د توتکی انځور دغسې یو څه په ښکلې بڼه تلپاتې شوی و؛ او دلته:

توتکیو ته د پسرلیو پر لار، په الوت ـ الوت د عبادت د اذان وربنودل، واه...

نور به څه ووایم؟ د ذهن په هغوگوتچې زه لیکل کوم، هغه یو چا را ترلې دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زما دغو لاندې تورو ته که شعر وايي، که نثر، خپلو ترلوګوتو ته مې، د همدغو جملو د ليکلو په شيبه کې انشا کړيدي:

پاسپورت

زما د ټولنې د سانسور منګولې

زما د شنه ذهن په بن کې ښې را خښې دي نن

زما د ذهن تاندو څانګو سره

مرګونې لوبې کوي

او د نيستۍ د دايرې ښکلی پاسپورت ورکوي.

۲۰۱۴/۰۸/۱۶

هيدرسليف

ډنمارک

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ